د امیرِ اهلِسُنَّت نه

# د قرآنِ پاک

## په باره کښې سوال او جواب

پښتو



د شيخ طريقت، اميرِ اهلِسُنّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهد ارشاداتو ليکلې ګلدسته


پیشکش:
مجلس المدينة العلميه (دعوت اسلامی)
ترجمه:
ټرانسليشن ډيپارټمنټ (دعوت اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

(دا رساله د امیرِ اھلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه نه په شوو سوالونو او د هغې په جوابونو باندې مشتمله ده.)

# امیرِ اھلِسُنَّت نه د قرآنِ پاک په باره کښې سوال او جواب

**دُعائے جانشینِ عطّار:** یا الله پاکه ! څوک چې دا رساله "امیرِ اھلِسُنَّت نه د قرآنِ پاک په باره کښې سوالونه او جوابونه" اولولي یا ئې واوري د هغه زړه د قرآن په نُور باندې روښانه کړې او بے حسابه ئې اوبخښې. اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

**د آخري نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:** چا چې په ورځ او شپه کښې زما په لور د شوق او محبت په وجه درې درې ځله دُرُودِ پاک اولوستو په الله پاک باندې حق دے چې د هغه د هغه ورځې او هغه شپې ګناهونه معاف کړي. (معجم کبیر، 362/18، حدیث: 928)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

**سوال:** د دینِ اسلام په باره کښې ډیر کتابونه لیکلے شوي دي. د قرآنِ پاک نه پس په دې ټولو کتابونو کښې وړومبے کوم یو اِسلامي کتاب اولیکلے شو او چا اولیکلو؟

**جواب:** حُجَّةُ الاِسلَام حضرت امام محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه په اِحیَاءُ العُلُوم کښې نقل کړي دي چې په اِسلام کښې د ټولو نه وړومبے د عبدُ المَلِک بن عبد العزیز بن جُریج رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه کتاب تصنیف کړے شو. په کوم کښې چې آثارو او د حضرت عطاء، حضرت مجاهد او حضرت عبدُ الله بن عباس رِضْوَانُ عَلَیْهِمْ اَجْمَعِیْن او نورو شاګردانو نه نقل شوي تفسیرونه دي. دا کتاب په مکهٔ مکرَّمه کښې اولیکلے شو.

(احیاء العلوم، 112/1) (ملفوظاتِ امیر اہل سنت، 343/1)

سوال: پخواني دور کښې کاغذ موجود نه وو نو هغه وخت به د ليکلو کار په څه باندې کيدو؟

جواب: په مختلفو څيزونو باندې به ليکل کيدل، لکه څنګه چې به قرآنِ کريم په څرمن، د اوښ په هډوکو او د وَنو په پټونو وغيره باندې ليکلے کيدو او وروستو د دې څيزونو نه قرآنِ کريم يو ځائے راجمع کړے شو. (مناهل العرفان في علوم القرآن،202/1 ماخوذاً) کوم وخت چې حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ شهيد کړے شو هغه وخت هم د هغوئي مخې ته په څرمن باندې ليکلے شوے قرآنِ کريم موجود وو او هغوئي د هغې تلاوت کولو، د هغوئي د وينې څاڅکې د قرآنِ کريم په دې آيت باندې راغلل:

﴿فَسَيَكْفِيْكَهُمُ اللّٰهُ ۚ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿۱۳۷﴾﴾ (1)

(تفسير درمنثور، پ1، البقرة، تحت الاية:137، 3/1، 40 مفهوماً. تفسير عزيزى، 622/1 مفهوماً)

اوس هم هغه قرآنِ کريم او په هغې باندې د وينې نښې موجودې دي. بهر حال! د ليکلو سلسله ډيره پخوانۍ ده. مخکښې خو پرنټنګ پريس (Printing Press) هم نه وو، ځکه د کتابونو چاپ کولو (Publishing) سلسله هم نه وه، د يو کتاب د نقلونو (Copies) جوړولو د پاره به هغه خو خو ځله ليکلے کيدو، ظاهره ده چې دا ټول د علم شوق وو چې ليکلو به ئې هم او يادولو به ئې هم. اوس خو د يو بَل نه زيات ښکلې، ښائسته او د مختلفو رنګونو والا کتابونه چاپ کيږي، خو افسوس! شوق ختميږي. خاص طور د ديني کتابونو لوستلو جذبه ډيره کمه شوې ده. (ملفوظاتِ امير اہل سنت،195/3)

سوال: څوک چې د کتابونو په دکان کښې کار کوي چرته چې دنياوي کتابونه هم وي او قرآنِ پاک، سيپارے او قاعدے هم وي نو آيا هغه به هر وخت په اوداسه کښې اوسيږي؟ يا که چرې د پاکې کپړے استعمالولو طريقه وي نو اوفرمائے.

---

1 ... پ1، البقرة:137- [مَفهُوم]ترجمهٔ کنزُالعرفان: نو اے حبيبه! نزدې ده چې الله به د هغوئي له طرفه تا ته کافي وي او هُم هغه اوريدونکے او عِلم والا دے.

**جواب:** قرآنِ پاک له بے اودسه لاس وروړل ګناه ده، (فتاویٰ رضویه، 1074/1ماخوذاً) خو [نورو] اسلامي کتابونو له په اودس کښې لاس وروړل افضل او مستحب دي او بے اودسه لاس وروړل خلافِ اولیٰ دي. (فتاویٰ رضویه، 1075/1 بهارِ شریعت، 302/1 حصه:2) که چرې بے اودسه قرآنِ پاک له د لاس وروړلو ضرورت وي نو د دې د پاره د ځان سره څه کپړه یا رُومال وغیره کیږدئ او کله چې ضرورت وي نو د هغې په ذریعه ئې را اخلئ او کیږدئ، (درمختار مع ردالمحتار، 348/1) په دې کښې به دا احتیاط کول وي چې د لاس یا ګوتې یوه [ښکاره] حصه هم د قرآنِ پاک سره اونه لګي. د دستانو اچولو سره ئې اوچتول جائز نه دي ځکه چې دستانے د بدن تابع وي. (درمختار مع ردالمحتار، 348/1)(ملفوظاتِ امیر اہل سنت، 209/3)

**سوال:** که چرې په غلطئ کښې قرآنِ پاک ښکته تشریف یوسي [یعني پریوځي] او د بنده اودس هم نه وي نو آیا بغیر د اودس نه قرآنِ پاک را اوچتولے او کیښودے شي؟

**جواب:** که چرې څه رُومال یا کپړه مو په جیب کښې وي نو د هغې په ذریعه ئې را واخلئ او کیږدئ (درمختار مع ردالمحتار، 348/1) یا بیا یو بَل صورت دا دے چې په چا نابالغه باندې را اوچت کړے شي، ځکه چې د هغه اودس نه ماتیږي. (بهارِ شریعت، 302/1، حصه:2)

(د امیرِ اهلِ سُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په خوا کښې ناست مفتي صاحب اوفرمائیل:) که چرې د توهین یا بے ادبئ صورت وي، لکه څنګه چې مَعاذَ الله! قرآنِ کریم په څه نالئ کښې غورځیدلے اُووِیني نو په دې حالت کښې فقهائے کرامو اجازت ورکړے دے چې بے اودسه هم قرآنِ پاک راخستے شي. (التبیان فی آداب حملة القرآن، ص196 ماخوذاً)(ملفوظاتِ امیر اہل سنت، 210/3)

**سوال:** آیا د قرآنِ پاک تفسیر له بے اودسه لاس وروړے شي؟

**جواب:** آؤ جي! د قرآنِ پاک تفسیر له بے اودسه لاس وروړے شي البته په کوم ځائے چې آیت یا د هغې ترجمه لیکلے شوې وي هغه ځائے او د هغې شاته چې د کاغذ کومه حصه وي هغې له لاس نه شي وروړے. (فتاویٰ رضویه، 1075/1)

(په دې موقع باندې په مدني مذاکره کښې شریک مفتي صاحب اوفرمائیل:) تفسیرونه په دوه قِسمه وي: یو خو هغه کوم چې بیل وي او هغې ته تفسیر وئیلے شي لکه تفسیرِ

جَلالَین چې دا دلته بیل میلاویږي نو دې له بے اودسه لاس وروړے شي او دویم هٰغه تفسیرونه کوم چې بالکل د قرآنِ پاک په شان وي او قرآنِ پاک ورته وئیلے شي لکه د بیروت نه چاپ شوے تفسیرِ جَلالَین، [دغسې] تفسیر خزائنُ العرفان او تفسیر نورُ العرفان وغیره چې دا په لیدو کښې قرآن پاک معلومیږي ځکه داسې تفسیرونو له بے اودسه لاس نه شي وروړے. (2) (ملفوظاتِ امیر اہل سنت، 242/2)

(په یوه بَله موقع باندې امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَه اوفرمائیل:) تفسیرِ نعیمي یا تفسیرِ صراطُ الجنان دا هم مُفَصَّل تفسیرونه دي، دې له هم اګر چې بے اودسه لاس وروړل بنه نه دي، مستحب دي چې دې له هم په اودس کښې لاس وروړے شي خو که چرې چا دې له بے اودسه لاس وروړلو نو ګناه پکښې نشته. البته بے اودسه به د دې او نور هر یو دیني کتاب ته د لاس وروړلو په وخت دا احتیاط کول وي چې د قرآن په آیت یا د دې په ترجمه باندې د وړاندې یا وروستو چرته نه هم لاس اُونه لګي.

(ملفوظاتِ امیر اہل سنت، 406/1)

**سوال:** که چرې د کتابونو په یوه الَماریٔ کښې په یوه حصه کښې قرآنِ پاک وي د هغې نه په بره حصه کښې څه بَل څه دیني کتاب وغیره کیښودے شي، دا بے اَدبي خو نه ده؟

**جواب:** بره مه کتابونه ګرځئ او مه څه نور څه سامان ګرځئ. بعضې خلق په الَماریٔ کښې دیني کتابونه کیږدي او بره [یعنې په الَماریٔ د پاسه] نور ځیزونه کیږدي داسې مه کوئ. (فتاویٰ ہندیہ، 324/5) (ملفوظاتِ امیر اہل سنت، 275/3)

---

2 ... (بے اودسه، جنابت والا او حیض او نِفاس والا) دې ټولو له د فِقه او تفسیر او حدیث کتابونو له لاس وروړل مکروه دي او که چرې د څه کپړے سره ئې لاس وروړلو اګر که هغه ئې اغوستې وي یا ئې په ځان را اچولې وي نو هُم هیڅ باک نشته خو د آیت په ځائے باندې په دې کتابونو کښې هم لاسونه کیښودل حرام دي. (بہارِ شریعت، 327/1، حصہ:2)

سوال: په کومه کمره کښې چې قرآنِ مجید وي د هغې چهت ته په ختلو کښې څه بے اَدبي خو نشته؟

جواب: نه جي! په دې کښې هيڅ بے ادبي نشته ګڼې بيا خو به ژوند ډير ګران شي. مونږه د جُمات ورومبي منزل ته د لمونځ کولو د پاره خيژو نو ښکته قرآنِ مجيدونه وي، دغه شان به په اوچتو ودانو او پلازو کښې داسې هيڅ يو کور هم نه وي په کوم کښې چې به قرآنِ کريم نه وي نو داسې خو بيا د دې هيڅ حل نشته. (ملفوظاتِ امیر اہل سنت، 276/3)

سوال: په ريل ګاډې، هوائي جاز يا کشتۍ وغيره کښې د سفر کولو په وخت قرآنِ کريم په کوم ځائے کښې کيښودل پکار دي؟

جواب: د اَدَب په ځائے کښې ئې کيږدئ. داسې بيګ د کوم د پاسه چې خلق ښپې ګږدي يا پرې دپاسه کښيني، نو د خپل ضمير نه پوښتنه اوکړئ چې آيا څوک په دې کښې قرآنِ کريم کيښودے شي!! ځکه قرآنِ کريم په بيل يو بيګ کښې اچوئ او په داسې ځائے کښې ئې کيږدئ چرته چې بے اَدبي نه کيږي يا ئې د ځان سره کيږدئ. که چرې په کځوړه کښې رانغښتے شوے وي نو بے اودسه په لاس کښې نيولو کښې څه باک نشته. (درمختار مع ردالمحتار، 348/1) (ملفوظات امیر اہلِ سنت، 298/4)

سوال: که چرې چا له قرآنِ پاک په تحفه [ډالۍ] کښې ورکړے شي او هغه چې په قرآنِ مجيد کښې کومې سجدے وي هغه سجدے اونکړې نو د قرآنِ پاک هغه تحفه به قبليږي که نه؟

جواب: که چرې د قرآنِ کريم نُسخه چا له په تحفه کښې ورکړے شوه نو ثواب به ئې کيږي. د سجدے د آيت د لوستلو اوريدلو چې کومې مسئلے دي د هغې مطابق چې کله سجده په چا باندې واجب شي نو هغه سجده به کول وي. اوس چې چا له قرآنِ کريم [په تُحفه کښې] ورکړے شو، که چرې هغه د سجدے آيت اولولي يا واوري او سجده نه کوي نو دا د هغه معامله ده، که چرې د واجب کيدو باوجود سجده نه کوي نو هغه به ګنهګاريږي. هم دا رنګه دا هم کيدے شي چې چا له د قرآنِ کريم نُسخه په

تحفه کښې ورکړے شوه هغه له هډو لوستل نه ورځي. بهر حال داسې گَس له هم قرآنِ کريم په تحفه کښې ورکولو کښې هيڅ باک نشته. (ملفوظاتِ امیر اہل سنت، 133/1)

سوال: که چرې يو انسان درې ځله په دروغ خبره باندې قرآنِ پاک را واخستو نو د دې څه گناه ده؟

جواب: په قرآنِ کريم باندې قسم خوړل قسم دے البته صِرف د قرآنِ کريم راخستو يا په دې باندې په لاس کيښودو کښې څه خبره کول قسم نه دے د فتاویٰ رضويه په جلد 13 صفحه 574 کښې دي: په دروغ خبره باندې د قرآنِ مجيد قسم خوړل سخته عظيمه گناهِ کبيره ده او په رښتيا خبره باندې د قرآنِ عظيم په قسم خوړلو کښې باک نشته او که ضرورت وي نو خوړلے ئې هم شي خو دا قسم ډير زيات سختوي. د خاص ضرورت نه بغير نه دي پکار. (ملفوظاتِ امیر اہل سنت، 494/1)

سوال: که د قرآنِ پاک صفحه شهيده شي او په زمکه باندې تشريف راوړي نو آيا هغه بے اودسه په تادئ کښې راخستے شي؟

جواب: چې اودس ئې نه وي او نه ورسره په خوا کښې څوک نابالغه ماشوم وي چې هغه ئې راواخلي او نه ورسره څه رومال وغيره وي چې په هغې ئې اونيسي او راوچته ئې کړي او صورتِ حال دا دے چې دا به ئې هُم پخپله راخلي نو هله به کار کيږي، يعني د بچ کيدو هيڅ صورت نه وي نو بيا به ئې دا پخپله را اوچتوي، اگر که بے اودسه ئې راواخلي او د اَدَب په ځائے کښې دې ئې کيږدي ځکه چې د دې اَدَب فرض دے. (ملفوظاتِ امیر اہل سنت، 322/5)

سوال: زمونږ په کلي کښې ډير زيات قرآن مجيدونه دفن دي، مخکښې چا نه وو ليدلي، اوس د هغې نه خاوره لرې شوې ده نو هغه قرآن مجيدونه رابښکاره شو، مونږ د دې سره څه اوکړو؟

جواب: هُغه قرآن مجيدونه به ضعيفه شوي وي په کومو کښې چې به تلاوت نشي کيدے، که چرې داسې وي نو لکه څنګه چې مُقَدَّس اَوراق وي نو هغه د هُغه ځائے نه راوباسئ او په بَل يو ځائے کښې چرته چې پرې د خلقو ښپې نه ايښودلے کيږي

هلته ئې خخ کړئ يا ئې په بوجو کښې واچوئ او هغه بوجئ [ځائے په ځائے] اوڅيرئ يا ورسره په بوجو کښې بَل څه وزن داره څيز واچوئ او د سمندر په مينځ کښې ئې واچوئ. د دې معلوميدو باوجود چې دا قرآن مجيدونه دي او بيا دې هُم هغه هلته پريښودے شي، چې نَعُوْذُبِاللّٰه خلق پرې دپاسه ګرځي د دې اجازت نشته. په جُماتونو کښې به قرآن مجيدونه ډير زيات جمع کيږي نو خلق به هغه قرآن مجيدونه هم داسې خخوي، حالانکه که چرې هغه د لوستلو قابل وي او چا په جُمات کښې کيښودي وي نو د دې خخول به جائز نه وي. په رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې خلق د قرآنِ کريم نوي نوې نُسخے راوړي او په جُماتونو کښې ئې ګرډي، د دې دا مطلب نه وي چې کوم د مخکښې نه موجود دي هغه دې لرې کړے شي ځکه چې هغه د لوستلو قابل وي.
(ملفوظاتِ امیر اہل سنت، 511/3)

سوال: که چرې په يو جُمات کښې تلاوت کولو والا نه وي او هلته د مخکښې نه قرآن مجيدونه موجود وي نو آيا هلته نور قرآن مجيدونه کيښودے شي؟

جواب: په داسې جُمات کښې قرآنِ پاک نه دې کيښودل پکار او نه په داسې ځائے کښې کيښودل پکار دي چرته چې تلاوت وغيره کوونکي خلق نه وي ځکه چې چرته تلاوت نه کيږي هلته د قرآنِ کريم د کيښودو څه فائده؟ او په جُماتونو کښې د مخکښې نه قرآن مجيدونه موجود وي نو دلته به د نورو راوړلو او کيښودو هيڅ مقصد نه وي ځکه چې د قرآنِ کريم په دومره نُسخو کښې به څوک تلاوت کوي؟ دلته خو داسې رواج جوړ شوے دے چې که څوک وفات شي نو فوراً د قرآنِ کريم نُسخه جُمات ته اورسولے شي چې د ايصالِ ثواب د پاره په جُمات کښې قرآنِ کريم ګرډو. په دې باندې د جُمات ځائے هم ګيريږي او د دې صحيح استعمال هم نه کيږي او بيا د خلقو د قرآن خوانئ سره دومره شوق هم نشته چې ګنې هره ورځ سل پنځوس قرآن خوانئ کيږي. کيدے شي چې دريمه، لسمه يا څلويښتمه کيږي نو قرآن خواني به هُم کيږي يا که چرې نوے دکان پرانستے شي نو د هغې په افتتاح به قرآن خواني کوي.

دغه شان بعضې خاص خاص موقعې وي په کومو کښې چې قرآن خوانئ کيږي دا ښه خبره ده. (ملفوظاتِ امیر اہل سنت، 513/3)

سوال: که په جُماتونو کښې قرآنِ پاک کيښودل وي نو د دې احتياط هم ارشاد کړئ.

جواب: که چرې په جُمات کښې قرآنِ کريم کيښودل وي نو د جُمات د امام صاحب سره دې مشوره اوکړے شي ځکه چې د امام صاحب پينځه واړه لـمونځونه په جُمات کښې وي هغه ته پته وي چې څومره خلق د قرآنِ کريم تلاوت کوي؟ مشوره کول به ښه وي، ګنې که چرې د مخکښې نه 99 قرآن مجيدونه کيښودے شوي وي نو چې يو بَل زيات کړے شي نو 100 به پوره شي. د رَمَضَانُ الْمُبَارَک نه علاوه دومره خلق په قرآنِ کريم لوستلو نه ليدلے کيږي. البته چې کوم جُماتونه آباد وي په هغې کښې څه نا څه تلاوت کوونکي وي خو د هغوئي شميره هم دومره نه وي لکه څومره چې پکښې قرآن مجيدونه وي، قرآن مجيدونه ډير زيات کيښودے شوي وي خو تلاوت کوونکي درې څلور وي.

د احمد آباد شريف هندوستان په جُماتونو کښې مې ليدلي وو چې ډير زيات قرآن مجيدونه ايښودے شوي دي تر دې پورې چې پوره پوره بَکسې د قران مجيدونو نه ډَکې وې، بائنډنګ کړے شوې 30 سيپارے کيښودے شوې وي او په هغې داسې قِسمه جُملے ليکلے شوې وي ”فلاں بھائی نا ايصالِ ثواب“، ”فلاں بھائی نا طرف تی اِيصال ثواب“ خواران کميټئ والا هم بے وسه وي چې کوم راوړلو والا راغلے دے هغه څنګه منع کړي، که چرې منع ئې کړي نو د هغه سره به جګړه څوک کوي؟ په دې وجه ئې خلق کيږدي. زه خو دا سوچ کووم چې کميټئ والا به د قرآنِ کريم دومره نُسخے څنګه سنبالوي؟ کيدے شي چې دا قرآن مجيدونه خلق کورونو ته د قرآن خوانئ د پاره وړې بيا ئې واپس راوړي او کېږدي ئې خو د قرآن خوانئ د پاره صِرف يو سيټ هم کافي وي، د دې باوجود ما ډير سيټونه کيښودلے شوي ليدلي دي چې دا د مرحومانو د ايصالِ ثواب د پاره دي. (ملفوظاتِ امیر اہل سنت، 512/3)

سوال: که چرې په جُمات کښې قرآن مجيدونه په زياته شميره کښې جمع وي او تلاوت کوونکي دومره نه وي نو د دې سره څه اوکړے شي؟

جواب: (د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په خوا کښې ناست مفتي صاحب اوفرمائيل:) که چرې په يو جُمات کښې دومره زيات قرآن مجيدونه جمع شوي وي چې د هغو هلته ضرورت نه وي نو هغه د بَل جُمات د پاره ورکولے شي. (فتح القدير، 202/6)

(اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه اوفرمائيل:) په جُماتونو کښې د قرآن مجيدونو کيښودو نه بهتر دي چې په مدرسو کښې کيښودے شي، کوم مُدَرِّسين چې هلته سبق ښائي د هغوئي نه دې پوښتنه اوکړے شي او ور دې کړے شي چې تاسو دا قرآن مجيدونه هٰغه ماشومانو له ورکړئ کوم چې حفظ کوي يا ناظره زده کوي يا چې چا ته ضرورت وي هغوئي له ئې ورکړئ. زما دا خيال دے چې دغه شان به ماشومان په هغې کښې تلاوت کوي او د ورکوونکي به ثواب کيږي ګڼي هغه به په جُماتونو کښې هسې ايښودلے شوي وي. چا ته دا غلط فهمي اونشي چې قرآنِ مجيدونه دې ګڼي بالکل په جُماتونو کښې نه کيښودے کيږي داسې نه ده، د تلاوت کوونکو د پاره په جُماتونو کښې قرآن مجيدونه کيښودل د ثواب کار دے. (ملفوظاتِ امير اہلِ سنت، 514/3)

سوال: په جُمات کښې قرآن مجيدونه پراته وي د کومو د لوستلو چې څوک هم نه وي آيا هغه قرآن مجيدونه مونږه چا له په کور کښې د لوستلو د پاه ورکولے شو؟

جواب: د قرآنِ پاک د پاره "پراته وي" الفاظ وئيل مناسب نه دي ځکه چې په دې کښې اَدب نشته. داسې وئيل پکار دي چې "قرآن مجيدونه تشريف فرما وي يا قرآن مجيدونه کيښودے شوي وي." بهر حال که چرې قرآن مجيدونه د جُمات د پاره وقف کړے شوي وي نو هغه په کورونو کښې د لوستلو د پاره نشي ورکولے.
(بہارِ شريعت، 535/2، حصه:10 ماخوذاً)(ملفوظاتِ امير اہلِ سنت، 297/2)

سوال: آيا په قرآنِ پاک خوشبوئي لګولے شي؟

جواب: که چرې د قرآنِ کريم نُسخه مو ذاتي وي نو داسې خوشبوئي چې داغونه نه جوړوي [هغه اول] په خپل لاس اولګوئ [بيا هغه لاس پورې لګيدلې] په قرآنِ کريم

باندې د تعظیم په نیت لګولے شئ. البته که چرې د قرآنِ کریم نُسخه د بَل چا وي نو بیا ئې پرې مه لګوئ، ځکه چې کیدے شي چې تاسو کومه خوشبوئي لګوئ د هغې نه بَل ته الرجي وي، ورسره دا هم کیدے شي چې خوشبو داغ جوړ کړي. په جُمات کښې چې د تلاوت کولو د پاره د قرآنِ کریم کومې نُسخے کیښودلے شوې وي په هغې باندې هم خوشبوئي مه لګوئ. (ملفوظاتِ امیر اہلِ سنت، 271/5)

سوال: اکثر لیدلے شوي دي چې په قرآنِ پاک کښې د ښکلا د پاره د طاؤس بڼې کیښودلے شي، دا ارشاد اوفرمائے چې په قرآنِ پاک کښې د طاؤس بڼې کیښودل څنګه دي؟

جواب: په قرآنِ پاک کښې د طاؤس بڼې کیښودو کښې باک نشته ځکه چې په دې کښې د بے ادبئ تصور نشته. مونږه به هم په ماشوم والي کښې د طاؤس وړې وړې بڼې په قرآنِ کریم کښې د ښکلا په نیت کیښودلې، البته که چرې څوک پکښې پوره بنډل کیږدي نو دا بیله خبره ده. (ملفوظاتِ امیر اہلِ سنت، 491/1)

سوال: بعضې ماشومان په قرآنِ پاک کښې په خالي ځائے کښې خپل نوم لیکي او ګلونه او بوټي پکښې جوړوي نو د دوئي داسې کول څنګه دي؟

جواب: که چرې د قرآنِ کریم نُسخه د چا خپله ذاتي وي نو په خالي ځائے کښې په نوم لیکلو او د ښکلو ګلونو بوټو په جوړولو کښې باک نشته خو چې داسې کولو سره د نُسخے ښکلا ته څه نقصان نه رسي، البته چې مدرسے ته کوم وقف شوي قرآن مجیدونه وي په هغې کښې نه نوم لیکلے شي نه پکښې کرښې راښکلے شي نه ئې پاڼې راماتولے شي نه پکښې ګلونه بوټي جوړولے شي او نه بل څه داسې انداز اختیارولے شي چې د هغې په وجه هغې ته څه نقصان اورسي. (ملفوظاتِ امیر اہلِ سنت، 132/5)

**سوال:** که چرې په لوښي کښې آيتونه ليکلے شوي وي نو آيا په هغې کښې خوراک کولے شي؟

**جواب:** نه ئې شي پکښې خوړلے. البته په اوداسه کښې د شِفا په نِيَت سره په هغه لوښي کښې اوبه اچولے او څښلے شئ. که اودس مو نه وي نو آيتونو له لاس نه شئ وروړے. [3] (ملفوظاتِ امیر اہل سنت، 300/3)

**سوال:** په قرآنِ کريم کښې ځائے په ځائے په رُکوع پوره کيدو باندې "ع" ليکلے وي، د دې نه څه مُراد دے؟

**جواب:** کيدے شي چې د دې په اوريدلو تاسو حيران شئ چې دا يوه اشاره ده او د دې نه مُراد اميرُالمؤمنين حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنْهُ دے. (مرآۃالمناجیح،188/3 ماخوذاً) دغسې په دې حِساب سره د قرآنِ پاک يوه نُسخه هم د هغوئي د ذِکرِ خير نه خالي نه ده.
(ملفوظاتِ امیر اہل سنت، 196/3)

**سوال:** په موبائل کښې د قرآن د آيتونو ميسيج (Message) ډيليټ (Delete) کول به آيا د دې حديثِ پاک په حکم کښې راځي چې قيامت ته نزدې به خلق قرآن ورانوي؟

**جواب:** خلق به قرآن ورانوي دا ما نه دي لوستلي، البته داسې دي چې قرآن به اوچت کړے شي يعنې د سينو نه به اُوځي.

---

[3] ... صدرُ الشريعه مولانا مفتی محمد اَمجَد علی اعظمی رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: په کوم لوښي يا ګلاس چې سورت يا آيت ليکلے شوے وي هغې له لاس وروړل هم د هغه (يعني د بے اودسه، جنابت او حيض او نفاس والا د پاره) حرام دي او د دې استعمال د ټولو د پاره مکروه دے، خو که خاص په نيت د شِفا وي [نو بيا جائز دي]. (بہارِ شریعت،327/1، حصه:2مفهوماً)

(د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په خوا کښې ناست مفتي صاحب اوفرمائيل:) د حضرت عبدُ الله بن مسعود رَضِیَ اللہُ عَنْهُ په په حواله سره دي چې قیامت ته نزدې به قرآنِ پاک د سینو نه اُوویستلے شي. (4)

(امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه اوفرمائيل:) یعنې څوک حافظ به باقي پاتې نه شي، د خپل موبائل نه ډيليټ (Delete) کول مُراد نه دي. دغسې خو په تعويذونو کښې هُم د قرآنِ پاک مبارک آيتونه ليکلے شي او هغه په اوبو کښې اچولے او حل کولے شي او دغسې آيتونه وران شي نو دې ته به د قیامت نښه نه وئيلے کيږي بلکه د دې اوبو څښل به جائز او د شِفا باعث وي ځکه د موبائل نه د قرآن د آيتونو په ډيليټ (Delete) کولو کښې هيڅ باک نشته. (ملفوظاتِ امیر اہل سنت، 551/3)

سوال: څوک چې قرآنِ پاک حفظ کړي نو تر څومره مودې پورې ئې ياد ساتل ضروري دي؟

جواب: تر مرګه پورې دې ئې ياد ساتي او ښځله دې ئې نه هيروي، البته که چرې حافظه ئې ښځله ختمه شي نو دا بيله خبره ده لکه څنګه چې په آخري وخت کښې کله چې انسان مرګ ته نزدې شي يا د څه پيښې په وجه ئې حافظه ختمه شي او بنده خپل

---

4 ... حضرتِ عبدُ الله بن مسعود رضی اللہ عنہ فرمائي: بے شکه دا قرآن کوم چې ستاسو مخې ته موجود دے، ډير زر به دا اوچت کړے شي- يو کس اووئيل: دا څنګه کيدے شي حالانکه دا مونږه په زړونو کښې او صحيفو کښې محفوظ ساتلے دے، مونږه خپلو بچو ته د دې تعليم ورکوو او زمونږه بچې خپل اولاد ته قرآن زده کوي- هغوئي اوفرمائيل: هغه به په يوه شپه کښې لاړ شي او د سحر په وخت به ئې خلق نه مومي او د دې صورت به دا وي چې قرآن به د زړونو او صحيفو نه مَحو [يعنې هير او وران] کړے شي- (تفسیر ابو سعود، پ15، بنی اسرائیل، تحت الآیة: 86، 503/3) او هُم دوئي حضرتِ عبدُ الله بن مسعود رضی اللہ عنہ فرمائيلي دي چې قرآنِ پاک ډير لولئ د دې نه مخکښې چې قرآنِ پاک اوچت کړے شي ځکه چې قیامت به نه راځي تر څو پورې چې قرآنِ پاک اوچت نه کړے شي- (شعب الایمان، 355/2، حدیث: 2026) چې کله د قیامت په قائميدلو (يعنې د قیامت په راتلو کښې) صرف څلويښت کاله پاتې شي، نو يوه خوشبو داره يخه هوا به اولګي، کومه چې به د خلقو د ترخونو تر لاندې تيره شي، د هغې اثر به دا اوشي چې د مسلمانانو رُوح به واخستلے شي او صرف کافِران به پاتې شي او هُم په هغوئي باندې به قیامت راځي-

(بهارِ شریعت، 127/1، حصه: 1)

مور پلار بلکه اَولاد هم نه پيژني. الله پاک دې مونږه د داسې حالت نه په خپل حفاظت کښې اوساتي. څوک چې قرآنِ پاک حفظ کړي هغه دې ټول عمر قرآنِ پاک لولي او که کيدے شي نو هره ورځ دې کم نه کم يوه سيپاره لولي اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِيم! د داسې بيا بيا وئيلو سره به ترينه قرآنِ پاک نه هيريږي. (ملفوظاتِ امير اہل سنت، 194/4)

سوال: بعضې وخت په سکول، کالج کښې د امتحان د تيارئ د پاره د قرآنِ پاک آيتونه ياد کړے شي کوم چې د اسلاميات او دِينيات د پرچې حصه وي يا د څه بَل څه مقصد د پاره ياد کړے شي آيا د هغه ټولو د پاره دا حکم دے چې کوم آيت يو ځل ياد کړي هغه ياد ساتل ضروري دي؟

جواب: کوم آيتونه چې ياد کړے شي بيا دې هغه ياد ساتي. مبلغين او تقرير کوونکي هم د بيان د پاره بعضې آيتونه حِفظ کوي ځکه چې عام طور دا خلق آيتونه زباني وائي اګرچې مونږه خپلو مبلغينو ته دا ذهن ورکړے دے چې بيان په کتلو سره کوي خو تقرير کوونکي داسې نه کوي نو دوئي ته به هم دا خيال ساتل ضروري وي چې کوم آيت يو ځل ياد کړي چې بيا هغه ياد هُم ساتي.

(د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَه سره خوا کښې ناست مفتي صاحب اوفرمائيل:) دا حکم مطلقاً دے يعني د هر يو د پاره دے که هغه د قرآن حافظ وي او که نه وي. په اَلزَّوَاجِر کښې د يو يو حرف او آيت په حقله دا خبره ليکلې ده.

(الزواجر، 256/1. جهنم ميں لے جانے والے اَعمال، 394/1)(ملفوظاتِ امير اہل سنت، 38/4)

سوال: بعضو خلقو ته د قرآنِ پاک ښودل [يعني ناظره تعليم ورکول] نه ورځي، بيا هم [طلبه ته] قرآنِ پاک ښائي او د هغې پيسے اخلي؟ داسې کول څنګه دي؟

جواب: دا ناجائزه دي. داسې کوونکے به ګنهګار وي.

(بهارِ شريعت، 170/3، حصّه:14 مأخوذاً)[5] (ملفوظاتِ امير اہل سنت، 213/4)

---

[5] ... اَعلیٰ حضرت اِمام اَحمد رَضا خان رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه فرمائي: بے شکه دومره تجويد چې تصحيح حروف ورسره کيږي او د غلط وئيلو نه بچ اوسي فرضِ عين دے- په "هزاريه" وغيره کښې دي: "اَللَّحۡنُ حَرَامٌ بِلَا خِلَافٍ" (بلا خلاف لحن حرام دے)- (فتاویٰ رضويه، 6/ 343) مثلاً يو حرف په بَل حرف سره بدلول، لکه اَلۡحَمۡدُ، اَلۡهَمۡدُ

سوال: څوک چې کورونو ته د قرآن ښودلو د پاره ځي که چرې کور والا بغير د غوښتلو نه هغوئي ته څه د خوراک د پاره ورکړي نو آيا هغه خوړلے شي؟

جواب: که چرې د غوښتلو نه بغير پخپله خوښه پرې څه خوري نو بالکل ئې خوړلے شي، د کور والا به ثواب هم کيږي. د دې د پاره دې سُوال نه کوي نه دې بالواسطه وائي، لکه ”زه ډير وږے شوے يم، نن د ډوډۍ خوړولو موقع ميلاؤ نه شوه، کيس ختم شوے وو، پخه مو نکړے شوه، د دې ځائے نه چې فارغ شم نو هوټل ته به ځم، نن خو په هوټل کښې خوړل راپيغاره ي.“ دا هم د غوښتلو اندازونه دي، ځکه چې هغه خلق ئې واوري نو وائي به چې ”نه قاري صاحب! مونږ به په تاسو باندې ډوډۍ اوخورو، اوس به ډوډۍ راوړو“ نو دا انداز مناسب نه دے. (ملفوظاتِ امير اہل سنت، 68/5)

سوال: که چرې لمونځ نه ورځي او د جَمعې سره لمونځ اوکړي نو آيا لمونځ به اوشي؟

جواب: د چا چې قِراءَت صحيح نه وي د هغه د پاره ضروري دي چې په جامِع شرائطِ امامت قاري پسې لمونځ اوکړي او په هغه فرض دي چې کوشش اوکړي او دومره قِراءَت زده کړي او ياد کړي چې څومره په لمونځ کښې کول فرض دي. (درمختار مع رد المحتار، 396395/2 ملخصاً. بهارِ شريعت، 570/1، حصه:3) هم دا رنګه په لمونځ کښې چې څومره قراءَت کول واجب دي هم دومره زده کول او يادول واجب دي. (درمختار مع رد المحتار، 315/2. بهارِشريعت، 545/1، حصه:3) هم دغه شان چې څومره قراءَت په لمونځ کښې مستحب دے هغه همره قِراءَت زده کول او يادول مستحب دي. (فتاویٰ رضويه، 349/6 ماخوذاً)

په قاري پسې د لمونځ کولو مطلب دے په داسې کَس پسې لمونځ اوکړي کوم چې په صحيح قرآن لوستلو باندې پوهيږي دا مُراد نه دے چې څوک په غوږ باندې لاس کيږدي او په ښکلي آواز کښې تلاوت کوي صرف په هغوئي پسې دې لمونځ کوي ځکه چې خلق عام طور داسې خلق قاريان ګڼي حالانکه په دوئي کښې

---

لوستل، د اِعراب غلطي کول، لکه په ”عَصىٰ اٰدَمُ رَبَّہ“ کښې د ” اٰدَمُ“ په ”ميم“ باندې زبر او د ”رَبَّہ“ په ”با“ باندې پيش لوستل-

د هر يو قاري کيدل ضروري نه دي بلکه په دوئي کښې بعضې د مخارِج په معامله کښې کمزوري هم وي البته که چرې څوک په ښکلې انداز کښې قرآن لوستونکے واقعي قاري وي نو په هغه پسې هم لـمونځ کولے شي. ياد ساتئ! اصلي قاري هغه دے چې د هغه کم نه کم دومره قِراءَت صحيح وي په کوم سره چې لـمونځ صحيح ادا شي. بهر حال چې د چا قراءَت صحيح نه وي هغه دې د امامت په شرطونو باندې په پوره قاري پسې لـمونځ کوي او زده کول دې هم جاري ساتي او اَلتحيات دې هم زده کړي ځکه چې د دې هم په لـمونځ کښې لوستل واجب دي.

(بهارِ شریعت، 518/1، حصه:3)(ملفوظاتِ امیر اہلِ سنت، 242/4)

سوال: مونږ په موبائل فون او کمپيوټر باندې تلاوت اورو، که چرې په دغه وخت کښې مونږ ته څه کار کول وي نو آيا مونږ هغه تِلاوت اورول بندولے شو او د خپل کار کولو نه پس بيا تلاوت اوريدے شو او په داسې کولو کښې ګناه خو نشته؟

جواب: هيڅ باک نشته. د ريکارډ شوي تِلاوت په بندولو کښې اِحتياط کوونکے ما چرې هم نه دے ليدلے، عام طور چې کله بندول وي نو ټک اوکړي او بند ئې کړي اګرچې که هغه آيت نيم لوستلے شوے وي او د هغې معنیٰ د څه نه څه جوړه شوې وي. دغه شان که نعت شريف وئيلے کيږي نو هم د شعر په نيمه کښې ئې بند کړي. څوک دا سوچ نه لري چې لږ شان صبر اوکړي او هغه آيت يا شعر چې پوره شي نو بيا دې ئې بند کړي. د آيت د پوره کيدو اندازه کيږي ځکه چې په آيت پوره کيدو باندې قاري صاحب اودريږي ځکه دې هغه وخت بند کړے شي يا چې څه وقف راشي نو بند دې کړے شي. هم دا رنګه نعت شريف عام طور په اُردو کښې وئيلے کيږي نو دغسې د شعر د پوره کيدو پته لګي نو په شعر پوره کيدو باندې ئې بند کړئ. دغه شان که چرې په مدني چينل باندې نعت شريف اورئ او مدني چينل بندول وي نو لږ شان صبر اوکړئ او شعر پوره کيدو ته پريږدئ بيا ئې بند کړئ، بعضې وخت د شعر مِصرع پوره شي نو معني هم پوره شي په دې صورت کښې که چرې په مِصرع پوره کيدو باندې ئې بند کړئ نو معنیٰ به نه فاسديږي لکه ''نور والا آیا ہے نور لے کر آیا ہے'' دا يوه

پوره مِصرع ده، که چرې دا نعت لګيدلے وي او اوس صرف دومره وئيلے شوے وي ”نور والا آیا ہے“ او فوراً بند کړے شي نو دا به صحيح وي بلکه چې صرف دومره ئې اووئيل ”نور والا“ او بند ئې کړو نو بيا هم هيڅ باک نشته خو په هر شعر کښې به داسې نه وي چې هغه په نيمه مِصرع باندې بند کړے شي. څوک چې په لږه ډيره اُردو پوهيږي هغه ته به اندازه اولګي چې چرته بندول پکار دي؟ ياد ساتئ! چې کله د عشق او محبت او اَدب او اِحترام ذِهن جوړ شي نو داسې اِحتياطونه به پخپله کيږي.


نن سبا خلق په خپل موبائل فون باندې تلاوت لګوي يا پرې د نعت شريف څه شعر لګوي لکه چې د ده په شان څوک عاشقِ رسول هډو شته نه، خو کله چې د چا کال [فون] راشي نو ټک شي چې فون ريسيو (Receive) کړي، که تلاوت او شعر هر ځائے ته رسيدلے وي. او دلته نعت شريف يا تِلاوت اوريدل مقصد هم نه وي ځکه دغه شان تلاوت يا نعت شريف په خپل موبائل باندې مه لګوئ. که چرې تلاوت يا نعت شريف اوريدل غواړئ نو په خپل موبائل کښې په زرګاؤ نعتونه واچوئ او اورئ ئې خو داسې ئې د رِنګ ټيون په طور مه لګوئ. د تلاوت يا نعت شريف په ځائے څه ساده ټيون په کوم کښې چې ميوزک نه وي هغه اولګوئ ځکه چې ميوزيکل ټيون جائز نه دے. په موبائل کښې داسې قِسمه ډير آپشنز وي په کومو کښې چې بغير د ميوزک والا ټيونز وي خو د خلقو عادت د ميوزک والا ټيون جوړ شوے دے ځکه هم دغه لګوي، د دې نه رښتوني توبه کول پکار ده. د دې خيال صرف په تلاوت يا نعت شريف کښې نه دي ساتل پکار بلکه که چرې بيان وغيره کيږي نو په هغې کښې هم دا خيال ساتل پکار دي مثلًا که په مدني چينل باندې د يو مبلغ بيان کيږي نو هلته هم غور کوئ چې کله بندول دي؟ په څه داسې جمله باندې ئې مه بندوئ چې معنیٰ پرې ورانيږي. هم دا رنګه چې مسئله بيانيږي نو هغه مسئله پوره کيدو ته پريښودل پکار دي يا که چرې مسئله اورېده وي نو چې څه جمله پوره شي نو بيا ئې بند کړئ. (ملفوظاتِ امیر اہل سنت، 584/4)

**سوال:** آيا په میموري کارډ کښې موجود ریکارډ شوے تلاوت چې واوريدلے شي نو د هغې ثواب ایصال کولے شې؟

**جواب:** د ایصال معنیٰ ور رَسَوَل او وړاندې کول دي. په کوم عمل باندې چې ثواب میلاو شي مثلاً فرائض او نفلونه وغیره نو د هغې ثواب بخښلے شي. په میموري کارډ کښې موجود ریکارډ شوے تلاوت چې اوریځ نو ظاهره ده چې ثواب به مو کیږي، چې ثواب مو اوشي نو د هغې بخښل هُم کیدے شي ځکه د دې ثواب هم بخښلے شئ. البته براهِ راست [نیغ په نیغه] د تلاوت اوریدو خپل ثواب دے، په دواړو کښې فرق دے. (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 6/253)

**نوټ:** د صفحه نمبر 6 آخرے سوال او د صفحه نمبر 7، 8 ټول سوالونه او د صفحه نمبر 9 وړومبے سوال او د صفحه نمبر 11 وړومبے سوال د شعبه ملفوظاتِ امیرِ اهلِسُنَّت له طرفه قائم کړے شوي دي خو جوابونه د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه له طرفه عطا کړے شوي دي.

## دراروانيءَ هفتے رساله





فيضانِ مدينه، محلّه سوداڪران، زره سبزي منڊهي ڪراچي

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com